مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست

۲۰۲۶/۰۴/۱۶

# ناځوانه

## (کیسه ګی)

پر څوکۍ ناست پیره دار، کلاشنکوف دیوال ته تکیه کړی و او پر موبایل یې داسې سر ورځوړند کړی و؛ لکه د خطرناکو مجرمینو د نیولو پلان چې طرح کوي.

رنجر یې خواته ودرېده؛ خو دی هماغه شان موبایل کې غرق و. له مخکې سیټه یو دنګ سړی، چې پر اوږو یې نښانونه ټومبلي و او توري چرمي موزې یې پر پښو وې، رابښکته شو. پیردار ته مخامخ ودرېد. ځوان له څوکۍ پورته شو، سلامي یې ووهله او بیا یې غږ کړ:

امر وکړئ صیب!

ما ویل اوس به امر صیب یوه عسکري ښېیره ورحواله کړي؛ خو هغه ورته ویل:

ناځوانه، دې ورځو کې دې هیڅ د لایک او کمنټ مزه نه‌شته!

د چنګاښ ۲۹مه، ۱۳۹۹

نعمان دوست



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ